لیکنه: حمیدالله بسیا

۰۹ فبروری ۲۰۲۵

## د خلکو پر اذهانو د ټولنیزو رسنیو، تبلیغاتي فلمونو او انلاین پلاټفورمونو اغېز

په ننني نړۍ کې ټولنیزې شبکې لکه فیسبوک، ټویټر، انسټاګرام، ټیکټاک او یوټیوب د معلوماتو خپرولو تر ټولو مهم وسایل ګرځېدلي دي، همدارنګه په څنګ کې د فلمونو، ډرامو، مستندو او تلویزیوني شوګانو په برخه کې نامتو ویب سایټ (نېټ فلیکس) هم خورا مشهور دی چې د فلمونو، او مستنداتو پراخ زېرمتون لري. او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې یې میلیونونه خلک ګوري. دغه پلاټفورمونه په ثانیو کې بې شمېره معلومات او خبرونه خپروي، چې دا چاره د پروپاګنډې لپاره د یوې خورا اغېزمنې وسیلې په توګه کارول کېږي.

تاسي به نن سبا لیدلي وي چې د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ فرمانونه، خبرې، ګوتڅنډني، امرانه لهجه چې د نړۍ هېوادونو ته یې کوي او ډول،ډول ډیکتاتورانه فرمانونه د ټولنیزو رسنیو سرټکي ګرځېدلی دي، اصلا تر یوه ځایه ددې فرمانونو او ټرمپ د دیکتاتورانه فرمانونو په خپرولو کې د ټولنیزو رسنیو او نورو خبري رسنیو د مسوولینو لاس هم دی ځکه دوی د بېلابېلو ګټو پراساس د هغه کوچنیو خبرو ته هوا ورکوي او بیا په ټوله نړۍ کې په بېلابېلو ژبو په ټولنیزو رسنیو کې خپروي.

د ټولنیزو رسنیو الګوریتمونه داسې ډیزاین شوي چې کارونکي د هغو محتویاتو سره مخ کوي چې هغوی دلچسپي ورسره لري او غواړي وایې وري او بیا تکرارا هماغه موضوعات په بېلابېلو بڼو ورته رامخکې کوي چې د لوستونکي او لیدونکي باورونه او نظریات لا پر پیښه پیاوړي کړي. دا پدیده د (Filter Bubble) په نامه یادیږي. په دې توګه، کارونکي یوازې هغه معلومات ګوري چې د هغوی له نظر سره سمون لري، او د متضادو او بېلابېلو نظریاتو مخه نیول کېږي.

همدارنګه ځیني سازمانونه، رسنۍ او خلک د Deepfake ټیکنالوجي له لارې ویډیوګانې او انځورونه چې د ویډیو، عکسونو، یا آډیو بدلون او تحریف دی د پروپاګنډې په توګه کار اخلي. ډیپ پېک یوه نوې، خو خطرناکه وسیله ګرځېدلي دي. په دې ټیکنالوجی سره په ډېر قانع کونکي بڼه جعلي ویډیوګانې جوړېږي چې ښایي د یو واقعي پیښې په څېر ښکاره شي او له مخې یې د خلکو باور پر یوه مصنوعي پیښه پوخ شي او لکه واقعیت یې ومني. دا ډلې د مصنوعي ځیرکتیا په مرسته نه یوازې د محتویاتو په تولید کې مرسته کوي، بلکه په ژر او اغېزمنه توګه معلومات په

بېلابېلو ژبو او کلتوري چاپېريالونو کې خپروي هم . چې د پروپاګنډې نړيوال پراخوالی او ژر تر ژره يې په ګڼو ملتونو کې خپرول يقيني کوي.

د جعلي خبرونو جوړول Fake News او خپرول يې د پروپاګنډې يوه له تر ټولو عامو نوو لارو څخه ده. د انټرنېټ له لارې داسې ويبپاڼې او ټولنيزې شبکې په چټکۍ سره د ناسمو او مغرضه معلوماتو خپروي.

په همدې لړ کې په نړۍ کې رواني شخړې او جنګونو کې هم د همدې تبليغاتو او رسنيزو پروپاګنډو رول خورا جوت دی په ځانګړې توګه د منځني ختيځ او د اوکراين روسيې په شخړه کې ، نه يوازې د ميدان جګړه يې توده ساتلې، بلکې په سينما، رسنيو او سياسي پروپاګنډه کې يې هم نوې ځپې رامنځته کړې دي. د اوکراين جګړه اوس په داسې حالت کې ده چې روسي پوځ د اوکراين نوې سيمې تر خپلې ولکې لاندې راوړي او اوس چې پر کييف د امريکا مرستې بندې شوې دي دا پروسه يې لا چټکه کړې او په پرلپسې توګه سيمې نيسي او تر خپل حاکميت لاندې يې راولي، د اوکراين اوسني واکمن د اروپايي او امريکايي مشاورينو په مرسته په دې حالاتو کې پروپاګنډې او سينمايي درغلي ته مخه کړې ده او د جګړې يو مهم اړخ يې ګرځولی دی. په دې لړ کې (بوچا ) يو پروپاګندويي فلم دی، چې نيټ فليکس د اوکراين د جګړې په تړاو توليد کړی، د ۲۰۲۲ کال د پسرلي د (روسيې – اوکراين جګړې) پر بنسټ د داسې يوې کيسې انځور وړاندې کوي چې ادعا کېږي روسي سرتېرو د اوکراين د پلازمېنې کييف په شمال لويديځ کې د بوچا په شاوخوا سيمو کې د ملکي وګړو په وړاندې غيرانسانه اعمال ترسره کړي دي. بوچا يو سينمايي توليد دی، خو مستند حقيقت نه وړاندې کوي، بلکې د عامه افکارو د کنټرول او سياسي اهدافو لپاره کارول کېږي خو د فلم په اړه راپورونه او څېړنې ښيي چې پېښه تحريف شوې ده. د لويديځو رسنيو له خوا د پروپاګنډې د يوې برخې په توګه کارول کېږي او د حقيقت په وړاندې ګڼ شکونه او پوښتنې راپورته کړي. او ځينې خو يې سرترپايه درواغ ګڼي

د بوچا فلم په څېر سينمايي پروپاګند لومړنی پېښه نه ده ، په ۱۹۴۴ کال کې، کله چې د شرقي اروپا په سيمو کې د روسيې پوځ اروپايي پولو ته په نږدې کېدو پيل وکړ، د ابور افسرانو په مشرۍ په ختيځ پروسيا کې د پراخو تحريف شويو پېښو سلسله رامنځته شوه. په هغو پېښو کې نازيانو، چې د ښځو، ماشومانو او زاړو کسانو وژنې يې هم ترسره کړې وې، هڅه يې کوله تر څو دا بوږنونکې پېښې پر روسيې ور تاوان کړي او په دې اړه يې په هغه وخت کې ګڼشمېر تبليغات ترسره کړل. دغه تاريخي مثالونه ښيي چې د سينمايي او رسنيزې پروپاګنډې په وسيله د جګړې د واقعاتو بيا جوړونه د تاريخي تجربو يوه پخوانی چاره ده چې نن په نوې بڼه تکرارېږي.

نيټ فليکس د سوريې د شخړې په اړه هم د سپينو خوليو په نامه يو بل جنجالي فلم توليد کړی و. په دې فلم کې، د سينما له لارې د پېښو بيا جوړونه او د درغليو له لارې د سياسي اهدافو ترلاسه کولو هڅه شوې وه. د نيټ فليکس د مشهورو مديرانو لکه ريد هيستينګز او ټيډ سرانډوس شخصي سياسي ترجيحات هم په دې توليداتو کې په څرګنده توګه منعکس دي. دا چې د نېټ فليکس مسوول ريډ هيستينګز د امريکايي ډيموکراټانو سرسخت کلک ملاتړی دی نو طبيعي ده چې د امريکا د پروپاګنډې نظريې پلې کوونکی به وي.

څېړنې ښيي چې د جګړې او سياسي شخړو په اړه خپرېدونکي معلومات بايد د بېلابېلو سرچينو او له بې طرفه څېړنو په رڼا کې و ارزول شي. د نړيوالو سازمانونو لکه د ملګرو ملتونو، بشري حقونو څارونکو او خپلواکو څېړنيزو ادارو هڅې مهمې دي تر څو د جګړې پېښې له درغليو او مغرضه روايتونو پاکې او کره څېړنې تر لاسه شي.

د نن ورځې انساني ټولنې له پخوانيو او نويو دواړو ډولونو د پروپاګنډې سره مخ ده. په ټولنيزو رسنيو او انلاين پلاتفورمونو کې د معلوماتو خپرولو سرعت د حقايقو تصديق او کره ارزونه ډېره ستونزمنه کړې ده. په داسې حال کې

چې د تاريخي تجربو په رڼا کې د درغليو او تزوير ميتودونه هماغسي ښکاره پاتې شوي، د معلوماتي تکنالوژئ پرمختګ او د نړيوالو اړيکو زياتوالی د نويو او مغرضه رسنيو د ظهور زمينه برابره کړې ده.